# د روت کتاب

## الیملک او د هغه کورنۍ موآب ته کډه کوي

۱-۲ د هغه زماني څخه مخکې چې پادشاهانو په اسراییلو باندې حکومت کاوه، یو سړی چې
الیملک نومېده او د افراتې د خېلخانې څخه ؤ، د یهودا د سیمې د بیت لحم په ښار کې اوسېده. د
هغه ښځه نعومي نومېده او دوه زامن یې محلون او کیلون وو. خو کله چې په ځمکه کې قحطي وه،
دوی د موآب هېواد په لور کډه وکړه چې هلته واوسي. هغه مهال چې دوی هلته وو، ۳ الیملک
مړ شو او نعومي د دوو زامنو سره یوازې پاتې شوه. ۴ وروسته د نعومي زامنو موآبي ښځې
وکړې. د یوې نوم عرفه او د بلې نوم روت ؤ. وروسته له هغه چې هغوی هلته نژدې لس کاله
واوسېدل، ۵ محلون او کیلون هم مړه شول. نو اوس نعومي مېړه او زامن دواړه نه درلودل.

## نعومي او روت بیت لحم ته راځي

۶-۷ کله چې نعومي واورېدل چې څښتن خپلو خلکو ته په ښو فصلونو سره برکت ورکړ،
هغې د خپلو نږیاندو سره تیاري وکړه چې موآب پرېږدي او د یهودا خاورې ته لاړه شي. هغه وخت
چې دوی په خپله لار روانې وې ۸ نعومي خپلو دواړو نږیاندو ته وویل: <ځئ هره یوه د خپلو
میندو کورونو ته لاړې شئ، زما څښتن دې ستاسو سره خپله مهرباني وکړي لکه څنګه چې تاسو ما
او زما مړو سره مهرباني وکړه. ۹ خدای دې تاسو هرې یوې ته بل مېړه او کور درکړي.>

نعومي دوی ښکل کړې. هغوی په لوړ اواز سره وژړل ۱۰ او ویې ویل: <نه، مونږ غواړو چې تا
سره لاړې شو او د ستا د خلکو په منځ کې واوسو.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۱) مګر نعومي په ځواب کښې ووېل: <زما لوڼو، تاسو ولې خپلو کورونو ته نه ستنېږئ؟ زما سره ستاسو تګ تاسو ته څه ګټه رسوي؟ تاسو فکر کوئ چې زه به نور زامن راوړم ترڅو د هغوی سره تاسو ودونه وکړئ؟ (۱۲) بېرته کور ته لاړې شئ زما لورګانو، ځکه چې زه ډېره زړه يم او بيا د واده کولو وړ نه يم. حتیٰ که چېرې زه نن شپه هم واده شم او زامن وزېږوم، (۱۳) نو آيا تاسو به هغوی ته صبر وکړئ چې هغوی زلمي شي او تاسو سره واده وکړي؟ نه، زما لورګانو! ژوند ماته ستاسو په پرتله ډېر سخت دی، ځکه چې څښتن اوس په ما دا سخته راوستې ده.>

(۱۴) دوی بيا وژړل او عرفې خپله خوابښې د مخه ښې په وخت کښې ښکل کړه، خو روت د هغې لمن پرېنښوده. (۱۵) نعومي بيا روت ته ووېل: <ګوره ستا يوور بېرته خپلو خلکو او خپل خدای ته ځي! ته ولې هغې سره نه ځې؟>

(۱۶) روت په ځواب کښې ووېل: <ماته مه وايه چې تا پرېږدم او کور ته ستنه شم! زه به هلته ځم چېرته چې ته ځې او زه به هلته اوسېږم چېرته چې ته اوسېږې. ستا خلک به زما خلک وي او ستا خدای به زما خدای وي. (۱۷) زه به هلته مړه کېږم چېرته چې ته مړه کېږې او هماﻟﺘﻪ به ښخېږم. څښتن دې ماته د ټولو نه درنده سزا راکړي که چېرې د مرګ نه پرته سره جلا شو.>

(۱۸) کله چې نعومي وليدل چې روت کلکه اراده کړې چې هغې سره لاړه شي، نو نعومي هغه نوره مجبوره نه کړه چې بېرته لاړه شي.

(۱۹) هغوی دواړه بيت لحم ته ورسېدلې او د ټول ښار خلک خوشاله شول او ښځو د يو بلې څخه وپوښتل: <آيا دا په رښتيا نعومي ده؟>

(۲۰) بيا هغې دوی ته ووېل: <له دې وروسته ما نعومي مه بولئ! ما مارا بولئ، ځکه چې مطلق قادر خدای زما ژوند تريخ کړی دی. (۲۱) ما هرڅه درلودل کله چې زه لاړم، خو څښتن زه بېرته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تش لاس راوستلې یم. څنګه تاسو کولی شئ بیاهم ما نعومي وبولئ؟ اوس مطلق قادر څښتن زما په ضد شوی دی او زما ژوند یې ډېر سخت کړی دی.>

۲۲ نو په دې ډول نعومي د خپلې موآبي نږور سره د موآب څخه بېرته راغله. دوی په داسې حال کې بیت لحم ته راورسېدلې چې د اوربشو لوونه په پیلېدو وو.

## روت د بوعز په پټیو کې کار کوي

۲ ۱ نعومي یو شتمن او مهم خپلوان درلود چې بوعز نومېده څوک چې د هغې د مېړه الیملک د
کورنۍ څخه ؤ. ۲ یوه ورځ روت نعومي ته وویل: <که ستا خوښه وي زه به پټیو ته لاړه شم او
هغه وږي به راټول کړم چې د لوګرو څخه پاتې شوي دي. زه باور لرم داسې یو څوک به پیدا کړم
چې ماته د دې کار د کولو اجازه راکړي.>

نعومي ځواب ورکړ: <ځه لورې لاړه شه.>

۳ نو روت پټیو ته لاړه، د لوګرو پسې روانه شوه او هغه وږي یې راټولول چې د دوی څخه به پاتې کېدل. د تصادف له مخې هغه د بوعز په پټیو کې وه.

۴ څه وخت وروسته بوعز په خپله د بیت لحم نه راغی او لوګرو ته یې وویل: <څښتن مو مل شه!>

هغوی ورته په ځواب کې وویل: <تا دې څښتن خوشاله کړي.>

۵ بوعز د لوګرو د مشر څخه پوښتنه وکړه: <هغه ځوانه ښځه څوک ده؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ سړي په ځواب کې وویل: <دا هغه موآبۍ ښځه ده څوک چې د نعومي سره د موآب نه
راغلې ده. ۷ هغې زما څخه اجازه وغوښتله چې لاړه شي او هغه وږي راټول کړي کوم چې د
لوګرو څخه پاتې کېږي. او هغې پرته له یوې شیبې دمې څخه ټول سهار کار کړی دی.>

۸ نو بیا بوعز روت ته ورغی او ویې ویل: <زه فکر کوم تاته به دا ډېره ښه وي چې د بل چا په
پټیو کې وږي راټول نه کړې. ته همدلته د ښځو سره پاتې شه ۹ او زما په پټو کې د لوګرو پسې
وږي راټول کړه. ما سړیو ته امر کړی چې تا ونه ځوروي او هرکله چې تږې کېږې، د هغو منګیو
څخه اوبه څښلی شې چې هغوی ډک کړي دي.>

۱۰ روت ځمکې ته د درناوي سر ټیټ کړ او ویې ویل: <ته پوهېږې چې زه د بل هېواد څخه
راغلې یم. ته ولې زما سره دومره نېکي کوې؟>

۱۱ بوعز په ځواب کې وویل: <ما د ټولو هغو شیانو په هکله اورېدلي دي چې تا د خپلې
خواښې دپاره د خپل مېړه د مرګ څخه وروسته ترسره کړي دي. زه پوهېږم چې څنګه تا خپله مور
او پلار او خپل هېواد پرېښودل او څنګه ته راغلې ترڅو د داسې خلکو په منځ کې واوسېږې چې تا
پخوا هېڅ نه پېژندل. ۱۲ زه دعا کوم چې څښتن دې د دې کار دپاره تاته اجر درکړي. د اسراییلو
څښتن خدای چې تا ورته پناه وروړې ده د دې کار پوره اجر درکړي.>

۱۳ روت په ځواب کې وویل: <ښاغلیه دا ستا ډېره نېکي ده چې ته ما سره ډېره په مهربانۍ سره
خبرې کوې او زما هرکلی کوې، زه حتیٰ ستا د یوې وینځې برابره هم نه یم.>

۱۴ د ډوډۍ خوړلو په وخت کې بوعز روت ته وویل: <راځه مونږ سره ډوډۍ وخوره. لږه ډوډۍ
واخله او په سرکه کې یې لنده کړه.> هغه د لوګرو سره کښېناستله او بوعز هغې ته وریتې شوې غلې
دانې ورکړې، روت چې څومره غوښتل ویې خوړې او لږې ورڅخه پاتې هم شوې. ۱۵ وروسته د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې چې روت د وږو د راټولولو دپاره لاړه، بوعز خپلو سړیو ته وویل: <هغه پرېږدئ چې د ګېډیو
څخه هم وږي واخلي. ۱۶ د ګېډیو څخه هم یو څه وږي راوباسئ او ورته یې پرېږدئ او د هغې
سره سختې خبرې مه کوئ!>

۱۷ نو روت په پټیو کې تر ماښامه پورې کار وکړ. د وږو د ټکولو څخه وروسته هغه یوه لویه
ټوکرۍ ډکه کړه. ۱۸ هغې دا وږي ښار ته یوړل او خپلې خواښې ته یې وروښودل چې څومره یې
راټول کړي وو. روت هغه ډوډۍ هم ورکړه کومه چې د غرمې نه پاتې شوې وه. ۱۹ نعومي وویل:
<تا نن چېرته او د چا په پټیو کې کار وکړ؟ خدای دې هغه سړي ته برکت ورکړي چې ستا سره یې
ډېره ښه رویه وکړه!>

بیا روت هغې ته وویل: <ما د یو سړي په پټیو کې کار وکړ چې بوعز نومېده.>

۲۰ نعومي په ځواب کې وویل: <څښتن دې بوعز ته برکت ورکړي! څښتن تل د مړو او ژوندیو
سره وفادار دی.> نعومي زیاته کړه: <بوعز زمونږ د هغې نژدې خپلوانو د ډلې څخه دی څوک چې
زمونږ ساتنه کوي.>

۲۱ روت هغې ته وویل: <بوعز حتیٰ ماته وویل چې د لو د پای پورې زما د لوګرو سره وږي
راټولوه.>

۲۲ نعومي په ځواب کې وویل: <زما لورې دا ښه خبره ده چې ته د هغو ښځو سره وږي راټول
کړې څوک چې د بوعز په پټیو کې کار کوي، ځکه کېدای شي د بل چا په پټیو کې ستا سره بد
سلوک وشي!> ۲۳ نو بیا روت د کار کولو په وخت کې نورو ښځو سره نژدې اوسېده. روت تر
هغه وخته پورې په پټو کې کار کاوه ترڅو چې ټولې اوربشې او غنم وربېل شول. او په دې ټوله
موده کې هغه د خپلې خواښې سره اوسېده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د روت دپاره د نعومي پلان

# ۳

۱ څه موده وروسته نعومي روت ته وويل: <ای زما لورې زه بايد ستا دپاره مېړه پيدا کړم،
هغه به تاته کور درکړي او په تا به پام کوي. ۲ ته پوهېږې چې بوعز زمونږ خپلوان دی او تا
ورې د هغو ښځو سره راټول کړي څوک چې د هغه دپاره کار کوي. ګوره، نن شپه به هغه په درمند
باندې اوربشې بادوي. ۳ اوس ولامبه او لږ عطر په ځان واچوه، بيا خپلې ښې جامې واغونده او
درمند ته لاړه شه. خو ترڅو پورې چې هغه د خوراک او څښاک څخه وزګار نه وي، خپل ځان مه
ورښکاره کوه. ۴ وګوره چې هغه چېرته څملي، بيا کله چې هغه ويده شي، پښې يې لوڅې کړه او
د هغه پښنو سره پرېوزه. بيا به هغه تاته ووايي چې څه وکړه.>

۵ روت په ځواب کې وويل: <څه چې ته وايې هماغسې به وکړم.>

۶ نو روت درمند ته لاړه او هماغسې يې وکړل څرنګه چې خواښې يې ورته ويلي وو. ۷
وروسته له خوړلو او څښلو نه بوعز د خوشالۍ احساس کاوه، هغه لاړ او د غلو دانو د ډېرى تر
څنګ ويده شو. روت غلې غلې ورنژدې شوه، هغې د بوعز پښې لوڅې کړې او د هغه پښنو سره
پرېوته. ۸ د نيمې شپې په شاوخوا کې، بوعز ناڅاپه راويښ شو او ډېر حيران شو چې خپلو پښنو
سره يې ښځه وليده. ۹ هغه پوښتنه وکړه: <ته څوک يې؟>

هغې په ځواب کې وويل: <ښاغليه زه روت يم ستا د پښنو خاورې. ته زما هغه خپلوان يې چې په
ما پام وکړې، نو ته ما سره واده وکړه.>

۱۰ بوعز په ځواب کې وويل: <خښتن دې تاته برکت درکړي! ته اوس د خپلې خواښې سره د
ټولې مرستې څخه هم لا زياته وفاداري ښايې. تا کولی شول چې د ځان دپاره دې يو ځوان شتمن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا غریب سړی لټولای وای، خو تا داسې ونه کړل. ۱۱ اوس فکر مه کوه، زه به همداسې وکړم
څنګه چې ته غواړې. په ښار کې ټول ستا درناوی کوي. ۱۲ دا رښتیا ده چې زه ستا نژدې
خپلوان یم چې باید درباندې پام وکړم. خو بل څوک هم شته چې هغه ستا ډېر نژدې خپلوان دی.
۱۳ تر سهار کېدو پورې دلته پاتې شه، بیا به زه ځان پوه کړم که چېرې هغه راضي شي چې ستا
مسئولیت په غاړه اخلي او که نه. که هغه راضي نه شو، نو زه په ژوندي خدای قسم خورم چې زه به
په خپله ستا مسئولیت په غاړه واخلم. اوس څمله تر سهار پورې پاتې شه.>

۱۴ روت بیا پرېوته، خو هغه د رڼا کېدو نه مخکې راویښه شوه، ځکه بوعز نه غوښتل چې بل
څوک پوه شي چې روت هلته وه. ۱۵ بیا بوعز ورته وویل: <خپله چینه خوره کړه> او هغه
پکښې تقریباً شل کیلوګرامه غلې دانې ورواچولې او د هغې په اوږه باندې یې کېښودله.

روت بېرته ښار ته راغله ۱۶ او چې کله کور ته راورسېده نو خواښې ورڅخه پوښتنه وکړه چې
<لورې، څه وشو؟>

روت ورته ټول هغه څه وویل چې بوعز د هغې دپاره کړي وو. ۱۷ هغې زیاته کړه: <بوعز ماته
وویل چې زه باید تاته تش لاس رانه شم نو همدا ؤ چې ماته یې دا ټولې اوربشې راکړې.>

۱۸ نعومي روت ته وویل: <زما لورې اوس صبر کوه ترڅو معلومه شي چې څه پېښېږي. بوعز به
نن تر هغې ارام ونه کړي ترڅو یې چې دا موضوع نه وي حل کړې.>

## د روت او د بوعز واده

۴ ۱ بوعز د غونډې ځای ته چې د ښار د دروازې سره ؤ لاړ او هلته کښېناست. کله چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اليملک زيات نژدې خپلوان راغی، نو بوعز هغه ته بلنه ورکړه چې راشي او کښېني نو هغه همداسې
وکړل. ۲ بیا بوعز د ښار لسو مشرانو ته بلنه ورکړه چې په هغه ځای کې کښېني او هغوی
همداسې وکړل. وروسته له دې چې هغوی کښېناستل، ۳ بوعز خپل خپلوان ته ووېل: <اوس
چې نعومي د موآب څخه بېرته راغلې، هغه غواړي چې هغه پټی چې زمونږ د خپلوان اليملک
ملکيت ؤ خرڅ کړي. ۴ زه تاته دا ځکه وايم چې ته د هغه د ټولو نه نژدې خپلوان يې او ته دا
حق لرې چې دا ملکيت واخلې، که چېرې ته غواړې کولی شې چې دا همدا اوس واخلې. دا لس
مشران او دا نور چې دلته ناست دي دا به شاهدان وي. خو که چېرې ته دا ملکيت نه غواړې بیا
ماته ووايه، ځکه ستا نه وروسته بیا زه مستحق يم.>

دې سړي په ځواب کې ووېل: <زه به يې واخلم.>

۵ بوعز ووېل: <ډېره ښه ده، خو که چېرې ته دا پټی د نعومي نه اخلې بیا به د موابي کونډې
روت سره واده هم کوې، ترڅو پټی بېرته د هغې د مړ شوي مېړه کورنۍ کې پاتې شي.>

۶ سړي په ځواب کې ووېل: <که چېرې داسې خبره وي بیا زه نه غواړم چې دا ملکيت واخلم،
ځکه چې هغه به زما خپل ملکيت کې څه ستونزه راپيدا کړي. ته يې په خپله واخله، زه يې نه شم
اخيستلی.>

۷ په هغو ورځو کې که چېرې چا د خپل ملکيت حق بل چاته سپاره، خپله څپلی به يې د
تصديق په ډول ورکوله. ۸ نو وروسته له دې چې سړي موافقه وکړه چې بوعز پرېږدي چې دا
ملکيت واخلي، هغه خپله څپلی وويستله او بوعز ته يې ورکړه.

۹ نو بیا بوعز مشرانو او نورو حاضرو کسانو ته ووېل: <نن تاسو ټول د دې خبرې شاهدان
ياستئ چې ما د نعومي څخه هغه ملکيت واخيست کوم چې د اليملک او د هغه د دوو زامنو په نوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ، چې کليون او محلون نومېدل. ۱۰ برسېره پردې تاسو د دې خبرې شاهدان یاستئ چې زه به روت سره چې د محلون کونډه ده واده وکړم. په دې توګه به دا ملکیت د محلون د کورنۍ په نوم وساتل شي او د هغه نوم به په خپلو خلکو او خپل ښار کې په یاد پاتې شي.>

۱۱ د ښار مشرانو او نورو خلکو چې هلته وو، وويل: <مونږ د دې خبرې شاهدان یو او مونږ دعا کوو چې څښتن دې ستا ښځې ته ډېر اولادونه ورکړي، څنګه یې چې د یعقوب ښځو راحیل او لیه ته ورکړي وو. ته دې د افراتې په خېلخانه کې شتمن او د بیت لحم په ښار کې مشهور سړی شې.
۱۲ د دې ځوانې ښځې څخه چې ستا اولادونه پیدا شي، هغوی دې ستا کورنۍ د فارص د کورنۍ په څېر مشهوره کړي چې د تامار او یهودا زوی ؤ.>

## بوعز او د هغه اولاده

۱۳ نو بوعز روت خپل کور ته د خپلې مېرمنې په توګه بوتله. څښتن هغې ته برکت ورکړ، هغه اومیدواره شوه او زوی یې پیدا شو. ۱۴ د هغه له زېږېدو څخه وروسته، ښځو نعومي ته وويل: <د څښتن ستاینه وکړه. نن هغه تاته لمسی درکړی چې په تا پام وکړي. مونږ دعا کوو چې دا هلک دې لوی شي او په اسراییلو کې دې نامتو شي. ۱۵ ته خپلې نږور ته ګرانه یې او تا سره یې د اووه زامنو څخه ډېر ښه کړي دي. اوس یې تاته لمسی هم درکړ څوک به چې تاته نوی ژوند راوړي او هغه به ستا په آخر عمر کې ستا ساتنه کوي.> ۱۶ نعومي ماشوم واخیست، په غېږ کې یې ونیو او د هغه ساتنه یې وکړه. ۱۷ ګاونډیو ښځو د هغه نوم عوبید کېښود او ویل به یې چې د نعومي هلک پیدا شوی دی.

کله چې عوبید لوی شو د هغه یو زوی پیدا شو چې یسي نومېده او یسي بیا وروسته د داود پلار شو. ۱۸-۲۲ دا د فارص څخه نیولې تر داود پورې د هغوی شجره ده: حصرون د فارص زوی ؤ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رام د حصرون زوی ۇ، عميناداب د رام زوی ۇ، نحسون د عميناداب زوی ۇ، سلمون د نحسون زوی ۇ، بوعز د سلمون زوی ۇ، عوبيد د بوعز زوی ۇ، يسي د عوبيد زوی ۇ او داود د يسي زوی ۇ.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.